At the time of initial posting on December 9, 2021, individuals using assistive technology may not be able to fully access the information contained in this document. A fully accessible version of the document is in preparation and will be posted as soon as it is ready. We regret any inconvenience that this may cause our readers. For assistance, please send an e-mail to ocod@fda.hhs.gov and include 508 Accommodation and the title of the document in the subject line of your e-mail.

**د (COMIRNATY (COVID-19 Vaccine, mRNA) په اړه واکسین اخیستوونکي او پاملرنه کوونکي او په ۱۲ کلنو او له دې لوړ عمر لرونکو کسانو کې د ۲۰۱۹ د کووېډ-۱۹ ویروس ناروغۍ (کووېډ-۱۹) مخنیوي لپاره د PFIZER-BIONTECH کووېډ-۱۹ واکسین د کارونې معلوماتي حقیقت پاڼه**

## د ۱۲ کلنو او له دې د لوړ عمر لرونکو کسانو لپاره

**تاسو ته دواړه د کومېرنټي (کووېډ-۱۹ mRNA) او Pfizer-BioNTech کووېډ-۱۹ واکسین وړاندې کېږي تر څو د ۲۰۱۹ کال د کووېډ-۱۹ ویروسي ناروغۍ مخنیوی وکړي چې د SARS-CoV-2 څخه رامنځته شوې.**

**د واکسین معلوماتي حقیقت پاڼه د ترلاسه کوونکو او پاملرنه کووکو لپاره د Pfizer-BioNTech کووېډ-۱۹واکسین حقیقت پاڼه لري او همدارنګه د FDA له لوري جواز لرونکي واکسینونو لکه، کومېرنټي (کووېډ-۱۹ mRNA)په اړه معلومات پکې شامل دي، چې د ۱۲ کلونو څخه تر لوړ عمره کسانو لپاره کارول کیږي.**

**د FDA له لوري تصویب شوی کومېرنټي کووېډ-۱۹ mRNA واکسین او د کووېډ-۱۹ Pfizer-BioTech واکسین دوه فورمولونه لري چې ۱۲ کلنو او لوړ عمر لرونکو کسانو ته د بېړنۍ کارونې EUA جواز لري. کله چې د کارولو لپاره د دوی اړوندو لارښوونو پر بنسټ چمتو شوي وي، د تبادلې وړ کارول کېدای شي.**

د (COMIRNATY (COVID-19 Vaccine, mRNA د FDA له لوري تصویب شوی واکسین دی چې د فېزر بیوټېک Pfizer-BioTech له لوري جوړ شوی دی. دا واکسین په ۱۶ کلنو او ډېر عمر لرونکو کسانو کې د کووېډ-۱۹ مخنیوي په موخه رامنځته شوی او د دوه ډوز په بڼه ترسره کېږي. دغه واکسین د بېړنۍ کارونې تر واک لاندې اجازه لري چې لاندې مواردو چمتو کړي:

- **له ۱۲ څخه تر ۱۵ کلنو کسانو ته د لومړنۍ لړۍ دوه ډوزه**
- **د ۱۲ کالو او تر هغه د ډېر عمر لرونکو کسانو لپاره د دریم لومړني لړۍ دوز چې ټاکل شوي د معافیت ځانګړي ډولونه ولري؛**
- **د ۱۶کسانو ته یو واحد بوسټر ډوز چې د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین یا COMIRNATY سره یې لومړنۍ لړۍ بشپړه کړې ده:**
- **وړ کسانو ته یو واحد بوسټر دوز چې د کووېډ-۱۹ مختلفو واکسینونو سره یې لومړنۍ واکسین بشپړ کړی وي. د بوسټر وړ کېدل او مهالوېش د لومړنۍ لړۍ لپاره کارول شوي واکسین د لېبل کولو د معلوماتو پر بنسټ برابرېږي.**

[1]کله چې د کاروني لپاره د دوی له اړوندو لارښوونو سره سم چمتو شي؛ د FDA لخوا تصویب شوی COMIRNATY (COVID-19 واکسین، mRNA)او د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین دوه EUA مجاز فارمولونه د ۱۲کلنو او ډېر عمر لرونکو لپاره د تبادلې وړ کارول کیدای شي. پرته له کوم خونديتوب يا اغيز لرونکو اندیښنو وړاندې کېږي.

**د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین د FDA څخه EUA ترلاسه کړی ترڅو  لاندې موارد چمتو کړي:**

- **د ۱۲ کلنو او ډېر عمر لرونکو کسانو لپاره د 2 ډوزونو لومړنی لړۍ؛**
- **د۱۲ کلنو او تر هغه د ډېر عمر لرونکو کسانو لپاره د دریمې لومړنی لړۍ ډوز، چې ټاکل شوي د معافیت ځانګړي ډولونه ولري؛**
- **د ۱۶ کسانو ته یو واحد بوسټر ډوز، چې د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین یا COMIRNATY سره يې لومړنی لړۍ بشپړه کړې ده:**
- **وړ کسانو ته یو واحد بوسټر ډوز چې د COVID-19 بېلابېلو واکسینونو سره  يې لومړني واکسین بشپړ کړي. د بوسټر وړتیا او مهالویش د لومړني لړۍ لپاره د کارول شوي واکسین د لیبل کولو د معلوماتو بنسټ ترسره کیږي.**

---

د واکسین معلوماتي حقیقت پاڼه کې هغه معلومات شامل دي، چې تاسو سره  کومېرنټي کوویډ-۱۹ mRNA واکسین د ګواښونو او ګټو په اړه پوهېدو کې مرسته کوي؛

د Pfizer-BioTech COVID-19 واکسین، تاسو ترلاسه کولی شئ ځکه چې اوس مهال د کوویډ-۱۹ ناروغي موجوده ده. که تاسو کومه پوښتني لرئ،  د خپل واکسین چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ.

دا حقیقت پاڼه ښايي نوې شوې وي. د وروستۍ حقیقت پاڼې د کتلو لپاره مهرباني وکړئ www.cvdvaccine.com ته لاړ شئ.

## وړاندې له دې چې دغه واکسین ترلاسه کړئ څه شي ته اړتیا لرئ؟

### کوویډ -۱۹ څه شی دی؟

کوویډ- ۱۹ د SARS-CoV-2 ویروس څخه رامنځته شوی دی. دغه ډول کرونا ویروس له دې وړاندې نه و لیدل شوی. تاسو بل کس سره چې دغه ویروس لري، د اړیکې له لارې پر COVID-19 اخته کېږئ کرونا په لویه کې یوه تنفسي ناروغي ده، چې کولای شي په نورو ارګانونو هم اغېزه وکړي، هغه خلک چې په COVID-19 اخته دي د ډېرو نښو نښانو د درلودو راپور يې ورکړل شوی، چې له معتدلو نښو څخه تر جدي ناروغیو پورې پکې شاملې دي. دغه نښې نښانې کېدای شي له ۲ څخه تر ۱۴ ورځو وروسته له ویروس سره مخامخ شي. په دې کې ښايي لاندې نښې نښانې شتون ولري: تبه یا زکام، ټوخی او ساه لنډي، د بدن د عضلاتو ستړیا او سر درد، تازه په تازه د خوند یا بوی د حس له لاسه ورکول، د ستوني درد، د پزې بهېدل یا بندېدل،  التهاب یا کانګې، او اسهالات.

### کومېرنټي کوویډ-۱۹ واکسینڅه شی دی او د PFIZER-BIONTECH COVID-19 واکسین سره څه تړاو لري؟

د کومېرنټي کوویډ-۱۹ او د **Pfizer-BioNTech COVID-19** واکسینونه چې کله د کارولو لپاره د خپلو اړوندو لارووښونو پر بنسټ چمتو شوې وي یو بل سره په تبادله ییزه توګه کارول کېږي.

د EUA په اړه د نورو معلوماتو لپاره د (بېړنۍ کاروني اجازه څه شی ده؟) د دې حقیقت پاڼې په وروستۍ برخه کې وګورئ.

**وړاندې له دې چې تاسو واکسین ترلاسه کړئ، واکسین چمتو کوونکي ته مو باید څه یادونه وکړئ؟**
د خپل واکسین چمتو کوونکي ته د خپلو ټولو روغتیایي شرایطو په اړه ووایئ که چېرې تاسو:

- کوم حساسیت لرئ
- مایوکارډیټس (د زړه د عضلاتو التهاب) یا پیریکارډیټس (د زړه څخه بهر د استر التهاب) لرئ
- تبه لرئ
- د وینې اختلال لرئ یا د وینې کموالي
- که معافیت مو کم شوی وي یا په داسې درملو روږدي یاست چې ستاسو د معافیت سیستم پې اغېزمن کړي
- حامله یاست او که د حامله کېدو پلان لرئ چې حامله شئ
- که شیدئ ورکوئ
- د کووېډ ۱۹ بل واکسین مو کړی وي
- که کله هم د پیچکارۍ پر مهال بې هوښه شوي یاست

**دغه واکسین څه ډول ورکول کېږي؟**
دPfizer-BioNTech COVID-19 Vaccine  واکسین او کومېرنټي واکسین به د پیچکارۍ په وسیله ستاسو په عضلاتو کې درکړل شي.
لومړنۍ لړۍ: واکسین د ۲ ډوز ونو لړۍ په توګه  ۳ اونیو په فاصله کې تنظیمېږي. د درییمې لومړۍ لړۍ ډوز ښايي لږترلږه ۴ اونۍ وروسته لهی دیوم ډوز څخه وروسته هغو کسانو ته ورکړل شي چې د معافیت ځانګړي ټاکل شوي ډولونه ولري.

بوسټر ډوز :

- د واکسین یو واحد دوز باید لږ تر لږه دPfizer-BioNTech COVID-19 واکسین یا COMIRNATY لومړنۍ لړۍ  بشپړیدو څخه ۶ میاشتې وروسته د۱۶ کالو او ډیر عمر لرونکي کسانو ته ورکړل شي.
- د واکسین یو واحد بوسټر دوز ښايي ځینو هغو  اشخاصو ته ورکړل شي چې د کووېډ-۱۹ نور مختلف تایید شوو واکسینونه پې بشپړ کړي وي. مهرباني وکړئ د بوسټر ډوز لپاره د ورکېدو او وخت په اړه د خپلې روغتیا لپاره د پاملرنې چمتو کوونکي سره وګورئ.

دا واکسین ښايي هر څوک خوندي ونه ساتي.

**څوک باید واکسین <u>ونه</u> کړي؟**
تاسو باید واکسین ونه کړئ که چېرې مو :

- د دې واکسین له مخکني ډوز څخه وروسته مو حساسیت لرونکی غبرګون درلود
- د دې واکسین د هر ډول اجزاو پر وړاندې مو شدید حساسیت لرونکی غبرګون درلود

**په دې واکسین کې کومې اجزاوې شاملې دي؟**
کومېرنټي کووېډ-۱۹ واکسین او د دې واکسین اجازه لرونکې فورمولونو کې لاندې اجزاوې شاملې دي:

- mRNA) او lipids 4-hydroxybutyl)، (azanediyl) bishexane-6,1-diyl) bis(2- hexyldecanoate)، 2 [(polyethylene glycol)-2000]-N,N-ditetradecylacetamide, 1,2-Distearoyl-sn – ګلیسیرو-3-فاسفوچولین، او کولیسټرول).

د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسینونه د ۱۲ کلنو او ډېر عمر لرونکو کسانو لپاره د لاندې اضافي اجزاو څخه یو لري؛ له واکسین چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ چې کومه نسخه تنظیمېږي:

- پوټاشیم کلوراید، مونوباسک پوټاشیم فاسفیت، سوډیم کلوراید، ډیباسیک سوډیم فاسفیت ډیهایډریټ او سوکروز

او یا

- ټرومیتامین، ټرومیتامین هایډروکلوراید او سوکروز

کومېرنټي کوویډ-۱۹ واکسین لاندې اضافي اجزاوې لري: پوټاشیم کلوراید، مونوباسک پوتاشیم فاسفیت، سوډیم کلوراید، ډیباسیک سوډیم فاسفیټ ډیهایډریټ او سوکروز.

**ایا دا واکسین مخکې کارول شوی؟**

هو! په کلینیکي ازمایښتونو کې نږدې ۲۳۰۰۰ کسان چې عمرونه یې ۱۲ کاله او له دې ډېر دي، د واکسین لږترلږه یو ډوز ترلاسه کړی دی. د دې کلینیکي آزموینو معلومات د Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسینونو د بیړني کارونې اجازه او د COMIRNATY mRNA COVID-19 واکسین د تاییدیدو ملاتړ کړی. د ۲۰۲۰کال د دسمبر میاشتې له ۱۱نېټې راهیسې میلیونونو خلکو د بېړنۍ کارونې EUA لاندې واکسین ترلاسه کړی دی. هغه واکسین چې ۱۲ کلنو او ډېر عمر لرونکو کسانو ته د کارولو اجازه لري دوه فارمولونه پکې شامل دي: یو دا چې چې په کلینیکي آزموینو کې څېړل شوی او د EUA لاندې کارول شوی او یو mRNA او لیپیډونو سره، خو د بېلابېلو غیر فعالو اجزاو سره. د بېلابېلو غیر فعالو اجزاو کارول په یخچال کې د واکسین د تودوخې لاندې ثبات کې مرسته کوي او فارمولیشن پرته له کمښو اداره کیدای شي.

**د دې واکسین ګټې څه دي؟**

واکسین ښودلې ده چې د کوویډ-۱۹ مخنیوی کوي، د کوویډ-۱۹ پر وړاندې یې د خوندیتوب موده اوسمهال څرګنده نه ده.

**د واکسین ګواښونه څه دي؟**

په ډېره کمه کچه چانس شته، چې واکسین کولای شي د شدید حساسیتي غبرګون لامل شي. یو شدید حساسیتي غبرګون معمولاً د واکسین د ډوز له ترلاسه کولو وروسته د څو دقیقو څخه تر یوه ساعت پورې رامنځته کېږي. په همدې دلیل ستاسو د واکسین چمتو کوونکی ښایي له تاسو څخه وغواړي، چې په هغه ځای کې پاتې شي چیرې چې تاسو د واکسین کولو وروسته د څارنې لپاره خپل واکسین ترلاسه کړی. په شدید حساسیتي غبرګون کې لاندې نښې نښانې شاملې دي:

- په ساه اخیستلو کې ستونزه
- ستاسو د مخ او ستوني پړسېدل
- د زړه چټک ټکان
- د ټول بدن خارښت
- ګنګسیت او کمزوري

د زړه د عضلاتو التهاب او له زړه څخه بهر د استر التهاب په ځینو هغو خلکو کې رامنځته شوی، چې واکسین یې کړی دی. اکثریت دغو کسانو کې دغه نښې نښانې د واکسین د ددوبیم ډوز له ترلاسه کولو وروسته په څو ورځو کې پیل شوی. د یادو مواردو د پېښېدو سلنه کمه ده. که چېرې د واکسین له ترلاسه کولو وروسته لاندې نښې ولرئ په بېړني ډول خپل روغتیا چمتوکوونکي سره اړیکه ونیسئ:

- د سینې درد
- ساه لنډي
- د زړه د چټک ټکان او درزېدو احساس

**په هغو جانبي عوارضو کې چې له واکسین کولو سره يې راپور ورکړل شوی لاندې موارد پکې شامل دي:**

- شدید حساسيتي غبرګونونه
- غیر شدید حساسيتي غبرګونونه لکه خارښ یا د مخ پړسوب
- مايوکارډيټس (د زړه د عضلاتو التهاب)
- له زړه څخه بهر د استر التهاب
- د پیچکارۍ په ځای کې درد
- ستړیا
- سردرد
- د عضلاتو درد
- ساړه
- د بندونو درد
- تبه
- د پیچکارۍ د ځای پړسوب
- د پیچکارۍ د ځای سوروالی
- ټوخی
- ښه احساس نه درلودل
- د لمف نوډونو پړسوب (ليمفاډينوپيتي)
- د اشتها کموالی
- اسهال
- کانګې
- د لاس درد
- د واکسین له پیچکارۍ سره يې هوښه کېدل

پورته موارد ښايي د واکسین ټول احتمالي جانبي عوارض نه وي، جدي او غیر متوقع جانبي عوارض هم ښايي رامنځته شي. د واکسين احتمالي جانبي عوارض لاهم په کلینیکي آزموينو کې څېړل کېږي.

**د جانبي اغېزو پر وړاندې باید څه وکړی؟**

که چېرې تاسو شدید حساسيتي غبرګون لرئ، ۱-۱-۹ ته زنګ ووهئ او یا هم نږدې روغتون ته ولاړ شئ.
که چېرې تاسو کومه جانبي ستونزه لرئ، چې تاسو په تکلیفوي او له منځه نه ځي، نو خپل واکسین چمتو کوونکي او یا هم روغتیا پال سره اړیکه ونیسئ.

د واکسین د جانبي عوارضو راپور FDA/CDC د واکسین منفي پېښو راپور ورکولو سیستم **(VAERS)** ته ورکړئ. 1-800-822-7967 د (VAERS) وړیا شمېره ده او یا هم په انلاین توګه https://vaers.hhs.gov/reportevent.html ته راپور ورکړئ. مهرباني وکړئ د راپور فورمه د # ۱۸ شمېرې بکس په لومړی کرښه کې د کومېرنټي کووېډ-۱۹واکسین یا Pfizer-BioNTech COVID-19 واکسین په (EUA) کې شامل کړئ.

پر دې سربېره تاسو کولای شئ د جانبي عوارضو راپور Pfizer Inc ته د اړیکو دلاندې معلوماتو په وسیله ورکړئ:

| ټېلفون نمبر | فاکس نمبر | وېب پاڼه |
|---|---|---|
| 1-800-438-1985 | 1-866-635-8337 | www.pfizersafetyreporting.com |

تاسو ته ښايي په v-safe کې هم د نوم لیکنې واک درکړل شي. v-safe یوه نوې داوطلبانه د زیرک ټیلفون وسیله ده، چې د متن د پیغام لېږدولو او وېب سروې ترسره کوي، تر څو د هغو کسانو سره وګوري چې واکسین شوي او د کووېډ-۱۹ له واکسین وروسته یې احتمالي ضمني اغېزې معلومې کړي.
V-safe داسې پوښتنې کوي، چې له CDC سره د کرونا واکسینونو د خوندیتوب څارنه کې مرسته کوي. V-safe د اړتیا پر مهال د واکسین د دویم ډوز یادونه هم برابروي او د CDC له لوري په ژوندۍ بڼه ټیلفون څارل کېږي. که چېرې کېدونوال د کووېډ-۱۹د واکسین له کولو وروسته د پام وړ روغتیايي عوارضو راپور ورکړي. د نوملیکنې څرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره .www.cdc.gov/vsafe وګورئ.

## څه به وشي که چېرې زه کومېرنټي او یا PFIZER-BIONTECH COVID-19 VACCINE واکسین د نه اخیستو پرېکړه وکړم؟

د بېړنۍ کارونې تر اجازې لاندې دا ستاسو خپله خوښه ده، چې واکسین کوئ که نه. که چېرې یې تاسو د نه ترلاسه کولو پرېکړه وکړئ، دا به ستاسې معیاري روغتیايي پاملرنه کې بدلون رامنځته نه کړي.

## ایا د کووېډ-۱۹ د مخنیوي لپاره د کومېرنټي او پي فزر بیوټک واکسین سربېره بل انتخاب شته؟

د کووېډ-۱۹ د مخنیوي په موخه ښايي نور واکسینونه هم د بېړنۍ کارونې تر واک لاندې موجود وي.

## آیا نورو واکسینونو سره همماله زه کولای شم د د کومېرنټي او پي فزر بیوټېک واکسین هم ترلاسه کړم؟

په ورته وخت کې د نورو واکسینونو په څېر FDA ته د کومېرنټي او پي فزر بیوټېک واکسینونو د تنظیمولو په اړه لا هم معلومات نه دي سپارل شوي. که چېرې تاسو له نورو واکسینونو سره یو ځای د کومېرنټي او پي فزر بوټېک واکسین د ترلاسه کولو په اړه فکر کوئ، خپل روغتیا پال سره د خپلې ټاکنې په اړه خبرې وکړئ.

## څه به وشي که زه د معافیت کمښت سره مخامخ شم؟

که چېرې تاسو له معافیتي اړخه کمزوري یاست، ښايي د واکسین دریېم ډوز ترلاسه کړئ. دریېم ډوز ښايي لا هم د کووېډ-۱۹ پر وړاندې هغو خلکو کې بشپړ معافیت چمتو نه شي کړای چې معافیت یې کم شوی دی. او تاسو باید د کووېډ-۱۹ مخنیوي کې د مرستې په موخه فزیکي پاملرنې دوام ورکړئ. پر دې سربېره، ستاسو نږدې اړیکې باید په مناسبه توګه واکسین شي.

## که زه حامله یا شیدې ورکوم څه به وشي؟

که چېرې تاسو حامله یا شیدې ورکوونکې یاست، خپل انتخاب مو له خپل روغتیا چمتوو کوونکي سره شریک کړئ.

### آیا د کووېډ-۱۹ واکسین به پر کرونا اخته کړي؟
نه، د کووېډ-۱۹ واکسین **SARS-CoV-2** نه لري او نه شي کولای تاسو په کووېډ-۱۹ اخته کړي.

### د واکسین کار مو وساتئ
کله چې تاسو لومړی ډوز ترلاسه کړئ، تاسو ته به د واکسین کارت درکړل شي او تاسو ته به وښیي چې د دویم ډوز واکسین بیا کله واخلئ. په یاد ولرئ کله چې د واکسین کولو لپاره راځئ خپل کارت له ځان سره راوړئ.

### نور معلومات
که چېرې تاسو کومه پوښتنې لرئ؛ ویب پاڼې ته لاړ شئ یا هم د ټېلفون لاندې شمېرې ته زنګ ووهئ. وروستیو حقیقت پاڼو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ لاندې QR کوډ سکین کړئ.

| د ټېلفون شمېره | نړیوال وېب سایټ |
|---|---|
| 1-877-829-2619<br>(1-877-VAX-CO19) | www.cvdvaccine.com |

### څنګه کولای شم نور هم زده کړم؟
- د واکسین چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ
- CDC څخه لیدنه وکړئ https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/index.html
- FDA څخه لیدنه وکړئ https://www.fda.gov/emergency-preparedness-and-response/mcm-legal- regulatory-and-policy-framework/emergency-use-authorization
- د خپل ریاست او یا هم سیمه ییزي عامې روغتیا ریاست سره اړیکه ونیسئ

### زما د واکسین معلومات چېرته ثبتېږي؟
د واکسین چمتو کوونکی ښايي ستاسو د و اکسین معلومات ستاسو په ایالت، سیمه ییزه قضايي حوزه کې د معافیت د معلوماتو سیستم (IIS) یا هم بل ټاکل شوي سیستم کې شامل کړي. دا به تضمین وکړي چې د دویم ډوز واکسین ترلاسه کولو پر مهال به تاسو یو ډول واکسین ترلاسه کړئ. د (IIS) په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره لاندې لینک وګورئ: https://www.cdc.gov/vaccines/programs/iis/about.html.

### آیا زه د کووېډ-۱۹ واکسین د ترلاسه کولو لپاره باید اداري فیس ورکړم؟
نه، په دې وخت کې د واکسین چمتو کوونکی نه شي کولای د واکسین د ډوز درکولو پر مهال له تاسو پیسې واخلي او یا هم له خپل جیب څخه کوم اداري فیس ورکړئ، که چېرې یوازې د کووېډ-۱۹ واکسین ترلاسه کوئ. په هر صورت، د واکسین چمتو کوونکی ښايي د یوه پروګرام یا پلان څخه مناسب لګښت وغواړي، چې د واکسین اخیستونکي لپاره د کووېډ-۱۹ واکسین اداري فیس رانغاړي. (لکه شخصي بیمه، درمل، میډیکاډ او د کووېډ-۱۹ HRSA غیر بیمه شوی پروګرام د غیر بیمه اخیستونکي لپاره).

**د شکمني درغلۍ د قضیې راپور چېرته ورکړم؟**
هغه خلک چې د کووېډ-۱۹ د CDC واکسین کولو پروګرام له اړتیا څخه د هر ډول احتمالي سرغړونې څخه خبر وي، هڅول کېږي چې د متحدو ایالتونو د روغتیا او بشري خدمتونو څانګې د عمومي مفتش دفتر ته په لاندې ادرس راپور ورکړي
1-800-HHS-TIPS or TIPS.HHS.GOV.

**د ټپونو د جبران د مخنیوي پروګرام پر وړاندې اقدامات څه دي؟**

د ټپونو د جبران د مخنیوي پروګرام (CICP) یوه فدرالي برنامه ده، چې ښايي د دې واکسین په کېدون د ځینو درملو یا واکسینونو له لوري زیانمنو شوو خلکو ته د روغتیايي پاملرنې او نوور ځانګړو لګښتونو د ورکړې برخه کې مرسته وکړي. (CICP) ته باید د واکسین د ترلاسه کولو نېټې څخه وروسته د یو کال په اوږدو کې د زیان ادعا وړورسپارل شي. د دغه پروګرام په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې لینګ وګورئ www.hrsa.gov/cicp/
او یا هم دې شمېرې سره اړیکه ونیسئ: 1-855-266-2427

**د بېړنۍ کارونې اجازه (EUA) څه شی دی؟**
د متحدو ایالتونو د FDA د کووېډ-۱۹ کومېرنټي او پي فزر بیوټیک واکسین د بېړنۍ کارونې EUA په نامه د بېړنې لاسرسي تر مېکانېزم لاندې چمتو کړی، چې د روغتیا و بشري خدمتونو د سکرتریت (HHS) له لوري یې ملاتړ کېږي او داسې شرایط شتون لري، تر څو د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال د درملو او بیولوژیکي محصولاتو بېړنۍ کارونه توجیه کړي.

د کووېډ-۱۹ کومېرنټي او پي فزر بیوټیک واکسین ته FDA د تایید شوي یا پاک شوي تولید په څېر بیا ځلي کتنه نه ده کړې. FDAښايي د ځینو معیارونو له بشپړولو وروسته یوازې د بېړنۍ کارونې اجازه یا (EUA) صادر کړي، چې بشپړ، تایید شوي او شته بدلونه شتون نه لري. پر دې سربېره د FDA پرېکړه د شته ساینسي ټولیزو شواهدو پر بنسټ ده، چې څرګندوي ښايي دغه محصول د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال د کووېډ-۱۹ مخنیوي لپاره اغېزناک وي او دا چې د محصول پېژندل شوې او احتمالي ګټې د پېژندل شوو احتمالي ګواښونو څخه ډېرې دي. دا ټول معیارونه باید پوره شي، تر څو د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال محصول ته د کارولو اجازه ورکړي. کووېډ-۱۹ پي فزر بیوټیک او کومېرنټي کووېډ-۱۹ واکسینونو لپاره EUAد کووېډ-۱۹ د EUA اعلامیې د مودې لپاره د دې محصولاتو بېړنۍ کارونه توجیه کوي، پرته له دې چې لغوه شي (له دې وروسته ښايي محصولات نور ونه کارول شي).

Pfizer

Manufactured by
Pfizer Inc., New York, NY 10017

BIONTECH

Manufactured for
BioNTech Manufacturing GmbH An der Goldgrube 12
55131 Mainz, Germany

LAB-1451-13.2

بیاکتنه: 9 دسمبر 2021

د دي لپاره سکین کړئ چې داحقیقت پاڼه د واکسین ترلاسه کوونکي ته د بریښنایی طبي ریکارډونو/ معاقبت معلوماتو سیستمونو لپاره جوړه شوي وه.

GDTI: 0886983000332

**پاملرنه :**هغه خلک، چې مرستندویه ټیکنالوژي کاروي په دغه سند کې شته معلوماتو ته بشپړ لاسرسی ونه لري .یاد سند ته د بشپړ لاسرسي وړ نسخه د چمتووالي په حال کې ده .کله، چې چمتو شي، ډېر ژر به خپره شي .مهرباني وکړئ د مرستې لپاره ocod@fda.hhs.gov ته بریښنالیک واستوئ او د بریښنالیک په موضوع کې مو د 508 استوګنې ځای او د سند سرلیک شامل کړئ.